توان

دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام دپ میاشتنی خپرونه

سال پنجم شماره چهاردهم | میزان ۱۳۸۰ هجری شمسی | سپتمبر ۲۰۰۱ میلادی

PROPERTY OF ACKU
S 737

درین شماره

- سرمقاله
- ورکشاپ انکشاف...
- زده کړه ډیوه ده
- خدمات کاریابی در...
- په کابل کې د فزیوتراپی...
- معیوبیت وجلوگیری ازآن
- طرح پلان کمک به طفل
- په "نشم کولای" عقیده...
- برآورده ساختن ...
- الگوی که از آن...
- نامه های ارسالی شما
- معرفی کتابهای جدید

TAWAN:

A Quarterly Disablity Publication of the Comprehensive Disabled Afghan s Programme

Contact:

H.N- 6 Str. 62, F-8/4
Islamabad, POB - 430
Phone: (092-51) 2855876, 2855788
Fax: : (092-51) 2855877
E-mail: unops@ unopsafg.org

UNOPS/CDAP

معیوب د زده کړې مساوی حق لري

دعلم زده کړه او حاصلول په هر مسلمان فرض ده. دحدیث شریف ترجمه په دې حدیث کې دمسلم لفظ عام دی نر، ښځې ، جوړ او ناجوړ ټول ورنه مراد دی.

دا مبارك حدیث ټول مسلمانان د علم په زده کړې اوښوونې مکلفوي او مسلمانانو ته امر کوي چې په دې کار کې یو بل ته لاس ورکړي، او دعلم په زده کړه کې دعمر، شکل، صورت، قد اوقامت او څه داسې شرطونه نشته، دا د هر مسلمان او انسان حق دی چې باید عالم وی.

مور او پلار او نور پالونکی او روزونکی باید خپلو ماشومانو ته د زده کړې وسایل او اسباب برابر کړي او داسې ونکړي چې روغ د زده کړه وکړي او معیوب د ورنه محروم او بې برخې وي. معیوبان لکه د نورو په شان د زده کړې حق او استعداد لري، ترڅو چې ماشومان وي باید مور او پلار یې پدې هکله خپل مسئولیت ادا کړي او کله چې لوی شي نو باید پخپله دهمت متې راونغاړي او علم زده کړي. د اسلام په تاریخ کې ډیرداسې معیوبان تیر شوي چې د پوهې، فقهې، فتوی او امامت په میدان کې له نورو نه مخکې وُ، د علم حاصلولو په لار کې یې ډیر تکلیفونه ګاللی او بالاخره داسې یوې مرتبې ته رسیدلي چې مسلمانان به ترقیامته وربانديې فخر کوي. دلته د مثال په توګه د ځینو نومونه رانقلوو: معاذ بن جبل (رض) ، عبدالله بن ام مکتوم (رض) ، عبدالرحمن بن عوف (رض) ، جریر بن عبدالله (رض)، ابان بن عثمان (رض) ، امام ترمذي، سعید بن المسیب، محمد بن سیرین او نور ډیر...

عبدالله بن ام مکتوم (رض) خو هغه صحابی دی چې دده په هکله د عبس سوره لومړنی آیتونه رانازل شویدي. یوه ورځ رسول (ص) د مخورو مشرکینو په دعوت او بلنه مصروف وُ هغوی یې اسلام ته رابلل چې عبدالله بن ام مکتوم راغی او ورته وئې ویل یا رسول الله (ص) "علمني مما علمك الله"، څه چې خدای تعالی درښوولې هغه ماته هم راوښیه . ګوري نوموړی په سترګو ړوند دی خو د علم په زده کړې پس ګرزی سوال کوي، او د رسول (ص) خدمت ته ورځې ترڅو څه ورنه زده کړي. دا جلیل القدره صحابی (رض) باید د معیوبانو لپاره د لارې مشال وی په ده پسې اقتدا وکړي او ځان په علم او پوهه سمبال کړي. نوموړی د خپل کوښښ په نتیجه کې دې درجې ته رسیږی چې رسول (ص) یې څو ځلې په مدینه کې خپل نائب او دخلکو امام ټاکی لکه د بدر او بنې قریظه غزاګانو په وخت کې.

د مور، پلار، خپلوانو، ګاونډیانو ، کلیوالو نه علاوه حکومت هم دا وظیفه لري چې د خلکو او رعیت د زده کړې او روزنې ټول لازم اسباب او وسایل برابر کړي رسول (ص) په دې هکله ډیرې مبارکې لارښوونې لري، او یوه عملي نمونه یې د بدر له غزا نه وروسته د اسیرانو په هکله فیصله ده. کیسه داسې ده چې رسول (ص) د بدر په غزا کې (۷۰) تنه مشرکان په اسارت ونیول، او له مشورې وروسته فیصله وشوه چې هغوی باید د فدیې (پیسو) په مقابل کې خوشې کړی شي، خو هغه بندیان چې د فدیې توان نلري نو هغوی باید هر یو لسولسو ماشومانو ته خط اولیکنه ورزده کړي او همدا یې فدیه ده . او دلویانو د زده کړې او ښوونې په هکله د رسول (ص) له اصحابو (رض) نه د اصحاب صفه په نام مشهور شوی اصحاب (رض) کافی دی ځکه هغوی ځانونه د علم زده کړې او جهاد ته وقف کړي وُو.

دهغو معیوبینو د روزنی لپاره چې د اوریدلو او یا لیدلو له حس څخه محروم وی د خاصو زده کړو پروګرامونه وجود لري چې دهغو په مرستې سره دوی ته د بریل لیکنه او د اشارې ژبه ورښودل کیږي اوپدې وسیله هغوی توانیږي چې سواد ترلاسه کړي، ولوستلی شي او ولیکلی شي. اکثراً کورنی او ددغه ډول معیوبینو والدین ګمان کوي چې دغه ډول ماشومان چې نه لیدی شي او نه اوریدی شي د ژوند یو همیشنی پیټی وی او د دوی د استعدادونو د ودې کوم امکان نشته. باید څرګنده کړو چې دغه ډول کورنی او والدین غلط ګمان کوي. همدا اوس زموږ په هیواد کې ددغسې ماشومانو لپاره دځانګړو زده کړو پروګرامونه کار کوي او موږ په خپله وروسته پاتې ټولنه کې داسې کسان لرو چې دلیدلو یا اوریدولو اوغږیدلو له نعمت څخه محروم دی خو له ابتدائی زده کړو سربیره یې لوړې زده کړې هم تر سره کړي او دټولنې په آبادی کې له روغو کسانو هم زیاته ونډه لري. باید پدې پوره باور ولرو چې یوازې زده کړه او تعلیم دی چې دغه ډول ناتوانه ماشومان توانمندی کوي اوله هغوی څخه دسبا ورځې څواکمن پلرونه جوړوي.

راځي چې پدې سره متفق شو چې تعلیم زموږ دهر نارینه، ښځینه ، ماشوم ، ځوان، روغ اومعیوب وګړي حق دی او دغه حق باید دوی ته ورکړل شي.

معیوب ماشومان چې په دې هکله ترټولو زیات محروم او هیر شوي دي، زموږ ځانګړې پاملرنې اوهڅې ته اړ دي. راځئ چې هغوی ته لاس ونیسو او په لاس کې دعلم ډیوه بله ورکړو.

آخرین ورکشاپ انکشاف زبان اشاره افغانی

ظاهره" عظیمی"

آخرین و دوازدهمین ورکشاپ انکشاف زبان اشاره افغانی از تاریخ ۲۳ جولای الی ۶ اگست سال جاری با اشتراک سه تن از ناشنوایان افغان و سه تن از آموزگاران مؤسسات سه گانه همچون کانون نارسایان شنوایی (HIFA) در کابل، پروژه ناشنوایان سرف شیپ (SHIP) در جلال آباد و پروگرام همه جانبه معیوبین افغان (UNOPS/CDAP) که به ارتباط ناشنوایان در افغانستان فعالیت میکنند برای یازده روز به اهتمام دفتر UNOPS/CDAP در شهر پشاور دایر گردید.

با تدویر این ورکشاپ ، این کمیسیون با قبول زحمات و حوصله مندی فراوان، مجموعه اشارات افغانی را که هدف عمدهٔ آن ارایه زبان اشاره واحد برای ناشنوایان کشور عزیز ماست به پایان رسانیده وبه دسترس علاقمندان گذاشتند.

موضوعات که بالای آن در طی این ورکشاپ بحث صورت گرفت شامل ۱۲۰۰ لغت جدید که توسط خود ناشنوایان افغان جمع آوری شده و ۸۰۰ لغت که از کتاب زبان اشاره SHIP و داشته های HIFA گرفته شده بود میشد.

البته بعداز رسیدن به موافقه توسط کمیسیون مشترکه لست از کلمات مورد ضرورت روزانه، تشریح مفهوم ۱۲۰۰کلمه جدید برای ناشنوایان، طرح پوش کتاب، پیشگفتار، مقدمه، فهرست، گرامر لسان اشاره ، رسم ها، ترجمه اشارات به لسان های پشتو وانگلیسی، ترتیب وتنظیم ۲۰۰۰ لغات به شکل الفباء، سپاگذاری ها، ترتیب مترادف های تماماً لغات و شماره گذاری اشارات وصفحات کاملاً به خاتمه رسیده وتا اخیر ورکشاپ مذکور آماده چاپ شده وکار متداوم دوسالهٔ این کمسیون مشترک موفقانه به پایان رسید.

قابل یاد آوریست که مرگ عضو ناشنواکمیسیون در اثر تصادم موتر در شهر کابل برای اعضای کمیسیون وجامعهٔ ناشنوایان ضایع بزرگ بوده وزحمات خستگی ناپذیر شان با کمیسیون درترتیب وتهیه این مجموعه قدر دانی می شود، خداوند ﷻ روحش را دایماً شاد داشته باشد.

وهمچنان از زحمات متداوم وبی پایان اعضای کمیسیون مذکور ابراز سپاس نموده و برای شان توفیق می خواهیم تا آثار بیشبهای را درین راستا چاپ ونشر نموده تا برای هموطنان ناشنوای مان خدمتی کنیم.

زده کړه پیوه ده

محمد نادردغزنی د ساحوی دفتر IEC مسئول

حمیدالله یو ښکلی اوتکړه ځوان و، د شنیز دبیارغونې مرکز کې ورسره مخ شوم، د روغبړ وروسته راته څرګنده شوه چې حمیدالله د اوریدو او خبرې کولو مشکل لري. هغه نیك برخورد درلود او غوښتل یې چې له هر چاسره راشه درشه او آشنائی پیدا کړي ترڅو دخپلې خوشحالی احساسات ورته څرګند کړي.

ابن الیمین د نوموړی ساحې د بیارغونې اوانکشاف کارمند دده په اړوند داسې قصه پیل کړه:

دحمیدالله د سروې فارم مې درې کاله پخوا د دوی په کلي " بهادرخیلو" کې د دوی په کور کې ډك کړ، په لومړی ځل چې د دوی کورته ورغلم حمیدالله نه غوښتل چې له چاسره د ووینې، د خپل زړه خواله ورسره وکړي د ځان لپاره یې ګوښه ګیرې اختیار کړي وه او د دوی کورنۍ او دوستانو هم له دې وجې چې د نوموړی سره مفاهمه مشکله وه، څه ناڅه له ځانه لیرې ساتلای وو. د پروګرام له وضاحت وروسته د مشکلاتو د ارزیابی په دوهم نمبر فارم کې دحمیدجان ټولې هغه عمده ستونزې رابرسیره او د دوی په مرسته د بیارغونې منظم پلان ورته جوړ او عملاً په کار شروع وشوه. ددې په خاطر چې د حمیدالله په کړو وړو کې هره ورځ د لیدو وړ تغییرات راتلل کورنۍ یې هم زیاته علاقه ښوده او د بیارغونې پلان په ډېره ښه توګه عملي کیده. په همدې وخت کې دافغان معیوبینو د پروګرام د کارموندنې او په کار کې د روزنې دمسئول محترم امیرخان له خوا د ګلدوزی حرفوی کورس جوړ او حمیدالله د زده کړې په خاطر پکې شامل شو. ددې کورس ښه والی په دې کې و چې د ګروپ له لسو کسانو څخه شپږو دحمیدالله په څیر د اوریدو او خبرو کولو ستونزې درلودې، دغې محیط ددی زمینه لا زیاته کړه چې په حمیدالله کې دهمنوع پالنې راشه درشه او ښه افهام اوتفهیم او شریکی ستونزې په ډیره ښه وجه سره شریکی او دحل لپاره ښه زمینه سازی وشي. دافغان معیوبینو دهراړخیزه پروګرام د خاصو تعلیماتو مسئولینو هم په خپل وار ددې منظم ګروپ لپاره عملي قدمونه واخیستل په یوه ټولګي سره راټول او د اشارې ژبې، لیك او لوست پروګرام په منظمه توګه وکارول شو، له دې سره چې حمیدالله او ددوی ملګرو ته دهراړخیزه بیارغونې پروګرام هم جاري وو. اوس حمیدالله دکور د ډیرو مهمو غړو څخه حسابیږي د کور په ټولو امورو کې مسئولانه ونډه اخلي، هغه اوس دخپل کسب اوکار " کلدوزی" له لارې د بشپړو عایداتو خاوند دی، د پروګرام له لارې یې چې کومه قرضه د ماشین اخیستلو او دوکان جوړولو په منظور ترلاسه کړې وه په ډیره منظمه توګه دهغې پور میاشتنی قسطونه ادا کوي، اوس حمیدالله هرڅه لیکلی شي او ډیر څه لوستلای شي. د حمیدالله د ګلدوزی دوکان هیڅ کله هم وزګار نه وی خو کله یې چې د لیك لوست او اشارې ژبې وخت د بیارغونې په انکشافی مرکز کې رارسیږی، حمیدالله ځان وزګاروي او دتعلیم لپاره رارسیږي او زده کړه په خپل ژوند کې دځان لپاره ډیوه بولی.

خدمات کاریابی در افغانستان

تاج الدین "باور"

جنگ های طولانی در افغانستان باعث معیوب شدن قسمت قابل ملاحظه مردم افغانستان گردیده وضمناً سایر بدبختی ها را برای مردم افغانستان به میراث گذاشته است. اکثریت معیوبین را اشخاص تشکیل میدهند که در اثر انفجار مین ها پاها ویا دست های خود را از دست داده اند. اکثریت این اشخاص معیوب در روستاها زندگی می کنند که دسترسی به هیچ نوع خدمات طبی، حرفوی، شغلی وبازتوانی ندارند. بناءً به همین اساس پروژه معیوبین افغان قسمت بزرگ پروگرام های خود را در روستاها متمرکز نموده تا به آنعده معیوبینیکه در اطراف زندگی می کنند خدمات بازتوانی فراهم گردد.

از جمله خدماتیکه پروژه معیوبین افغان (UNOPS/CDAP) برای معیوبین عرضه می کند یکی هم خدمات کاریابی است که از طریق آن آموزش های حرفوی برای آنعده معیوبین که علاقمند آموزش حرفه هستند تنظیم می گردد. قرضه های دورانی برای معیوبین اعطا گردیده و همچنین با آنعده معیوبین که شغل قبلی دارند و به کار ضرورت دارند کمک میشود تا در مراجع کار معرفی شوند واز طریق آن صاحب کار شوند.

پروژه معیوبین افغان که از سال ۱۹۹۵ پروگرام بازتوانی معیوبین را در چوکات پروگرام های انکشافی ملل متحد آغاز نموده برای یک تعداد معیوبین قابل ملاحظه کورس های آموزشی فراهم می نماید که در نتیجه تا بحال تعداد اضافه تر از ۲۸۰۰ نفر معیوب (زنان ومردان) در شغل های مختلف آموزش دیده واکثر ایشان فعلاً مصروف کار اند.

برای بیشتر از ۳۴۰۰ نفر معیوب قرضه های دورانی اعطاء گردیده که ازجمله ۷۰٪ این اشخاص را آنانی تشکیل میدهند که قبلاً از طریق کورس های حرفوی آموزش دیده اند وجهت آغاز نمودن شغل قرضه اخذ نموده اند وهمچنان ۸۰٪ اشخاص قرضه گیرنده را آنانی که قبلاً شغل داشته و برای بهبود وتوسعه شرایط کار شان قرضه داده شده اند تشکیل میدهند.

تعداد محدود از معیوبین که جمعاً به ۲۰۰ نفر میرسد به کارهای مستقیم جابجا شده اند.

تجارب نشان میدهدکه خدمات کاریابی مستقیم در شرایط فعلی که زمینه کار محدود است وفابریکه ها، تصدی های دولتی وشخصی فلج است آنقدر موفق نبوده است.

در حال حاضر هم پروگرام های پروژه همه جانبه معیوبین افغان در ولایات مانند هرات، قندهار، مزار شریف، سمنگان، کندز، وردک، لوگر تخار، غزنی وفراه جریان دارد وسالانه در حدود ۱۵۰۰ - ۲۰۰۰ نفر معیوب از این پروگرام مستفید می شوند.

د جون میاشتې د ۹ تاریخ څخه تر ۱۲ تاریخ پورې د څلورو ورځو لپاره د UNOPS/CDAP د فزیوتراپی د سوپروایزرانو غونډه د فزیوتراپی دپروګرام مسئول راضی خان همدرد له خوا راوبلل شوه. په غونډه کې دفزیوتراپی د سوپرایزرانو څخه علاوه د UNOPS/CDAP د مرکزی دفتر د IEC مسئول د UNOPS/CDAP دمرکزی ولایاتو حوزوی مسئول او همدارنګه د فزیوتراپی دمکتب یو معلم هم شرکت وکړو.

دغونډې اصلي مقاصد په لاندې ډول وه:

۱. د UNOPS/CDAP په ټولوحوزوکې د پروګرام د اهدافو مطابق دفزیوتراپی د معاینې کارتونو ته یو رنګ او یو شکل ورکول.

۲. دفزیوتراپی د راپور فورمو ته د پروګرام دضرورت په اساس وده ورکول.

۳. د ناروغانو عمومی او روزمره راجسترونه په ښه او نوي شکل ترتیب کول

۴. د فزیوتراپی د ناروغانو د رخصتولو او خارجولو لپاره یوه واضحه لایحه یا د تګ لاره جوړول.

د پورته مقاصدو د لاسته راوړلو لپاره ټولو ګډون کوونکو ډیر په اخلاص او دلچسپی سره په غونډه کې برخه واخیسته او پورتنی مقاصد یې په ټاکلي وخت کې په لاس راوړل.

باید ووایو چې د دې نوو کارتونو، د راپور د ورقو، د راجسترونو ترتیب او د لایحې په جوړلو سره به د فزیوتراپستانو په ورځنیوکارونو کې بهبود راشي.

اوهمدارنګه د UNOPS/CDAP په ټولو حوزو کې به پروګرام په یو رنګ شي چې دا به د پلټنې او ارزیابی کارونو ته اسانتیا ورکړي او هغه څوک چې د UNOPS/CDAP د داخل او یا خارج څخه د پروګرام د ارزیابی لپاره ساحو ته ځي په ډیره آسانی به وکولای شي چې پروګرام ارزیابی کړي.

د یادونې وړ ده چې دا دافغانستان په تاریخ کې د افغاني فزیوتراپستانو لومړنی قدم دی چې د خارجی فزیوتراپست د نه درلودلو پرته یې ډیر معلوماتی او دمطلب څخه ډک کارتونه راجستریشن ، د راپور ورقې اومنظمه لایحه ترتیب کړه چې دا ددې ښکارندوی ده چې فزیوتراپی په افغانستان کې ډیر پرمختګ کړی او . دافغانستان فزیوتراپستان په خپلو پښو ودریدلی دي چې دا ددی ملک د دردیدلي او رنځیدلی ملت لپاره د ډیرې خوښې زیری دی.

معیوبیت وجلوگیری ازآن

داکتر کریم "باز"

معیوبیت عبارت از محدود شدن حرکات ووظایف اعضاء مختلف بدن (به تنهائی و یا چندین عضو) میباشد که عموماً به دو گروپ بزرگ تقسیم میشود.

a. معیوبیت های دایمی (ثابت) Parmanent Disability

b. معیوبیت هایی موقتی غیر ثابت Temproray disability

ازجمله دو نوع معیوبیت ها که در بالا ذکر شد، نوع اول بسیار مشکل وحتی در بعضی اوقات قابل بازتوانی نمی باشد مثلاً معیوبیت هائیکه در نتیجه امراض دماغی به وجود آمده باشد.

نوع دوم آن که معیوبیت آنهارا توسط مداخله جراحی خدمات فزیوتراپی، خدمات ورکشاپ اورتوپیدی وغیره میتوان بازتوان ساخته وبه جامعه داخل بسازد.

درحدود تقریباً ۵-۳٪ اطفال یا معیوب تولد میگردند ویا اینکه در طول دوره طفولیت معیوب میشوند. چنین اطفال ممکن در زمینه های چون تحریکیت، شنوائی، بینائی ویا آموزش مشکلات داشته باشند. موجودیت مشکلات در زمینه آموزش را بنام معیوبیت دماغی (تأخر ذهنی) نیز یاد می نمایند. متأسفانه در طبابت عملی و آموزشی دوکتوران در مورد اهتمامات اطفال معیوب کمتر توجه میکنند.

جلوگیری ووقایه از معیوبیت ها ؟

بیشتر از ۵۰٪ معیوبیت های اطفال قابل جلوگیری (وقایه) میباشند ورهنمود های ذیل بیانگر وقایه معیوبیت ها در اطفال خواهد بود.

قبل از ازدواج:

هرگاه شوهر وخانم باهم اقارب نزدیک (پسر کاکا، پسرماما وغیره) باشند احتمال به وجود آمدن امراض ارثی در اولاد آنها خیلی هازیاد است در حالیکه این احتمال در همسر[illegible] دارای قرابت دور وفامیل های [illegible] ها کم میباشد.

قبل ازبارداری (حمل):

باید مقدارکافی آیودین وفولیک اسید در غذای خانم ها، قبل ازحاملگی موجود باشد.

در زمان بارداری (حمل):

باید خدمات مراقبت های صحی خوب قبل از ولادت وتغذی خوب برای خانم های حامله تهیه گردد.

که این وظیفه را میتوان توسط کلینیک های حمایه طفل ومادر MCH وحتی دایه های تربیه شده کمک نمود. در شرایط فعلی افغانستان دایه های محلی در بیشتر از نصف ولایت ها همکاری می کنند. تجارب بسیاری از کشور ها نشان داده است که اگر این دایه های محلی قواعد اساسی را بیاموزند نتایج مثبت وبسیار سودمندی بدست می آید.

- آنها میتوانند تشخیص ووقایه از [illegible] خونی، وصورت تطبیق واکسین تیتانوس بیاموزند.
- آنها باید در جهت شناسائی آنعده از مادران حامله معروض به خطر که ایجاب مواظبت های باالخاصه وولادت های داخل شفاخانه را می نمایند، آموزش ببینند.
- به آنها باید تدریس نمود که چطور یک ولادت پاک را سازمان دهند وچه گونه از اختلاطات جلوگیری نمایند.
- آنها باید بیاموزند که چطور نوزاد را مواظبت نموده و تغذی مقدم با شیر مادر را توصیه نمایند.

دایه های محلی معمولاً در همسایگی خانم ها زنده گی می نمایند ویا مربوط به اقارب خانم ها میباشد که این مطلب اجرای مواظبت های قبل از ولادت را برای آنها ساده وآسان می سازد واز طرف فامیل ها به خوبی مورد قبول قرار میگیرند.

هرداکتریکه بخواهد در جهت کاهش دادن مرگ مادران، نوزادان، ومرگ های داخل رحمی کمک نماید، بایدکوشش کند تا راه های بهترمواظبت مادران حامله را توسط دایه های محلی دریابد. وتنها مساعی مشترک میتواند موفقیت آمیز باشد.

در هنگام ولادت وماه اول حیات طفل بعداز ولادت:

- ولادت باید حداقل توسط دایه تربیه شده محلی صورت گیرد.
- تغذی مقدم بواسطه شیر مادر توصیه گردد.
- مراقبت صحی خوب از طفل نوزاد صورت گیرد.

سال اول طفل:

- به طفل به شکل بسیار منظم تمامی واکسین ها تطبیق گردد تا معافیت حاصل نماید.
- تغذیه خوب تأمین گردد.
- محیط مصئون رابرای طفل آماده شود
- امراض معیوب کننده به وقت و زمان تشخیص وتداوی گردد.

" مراقبت صحی خوب از طفل مریض را ازمعیوبیت وقایه مینماید" طور مثال اهتمام خوب در زمینه سرخکان از کوری طفل وسوی تغذی جلوگیری نموده تداوی خوب وبه وقت وزمان انتانات گوش متوسط طفل را از کری جلوگیری می نماید.

طرح پلان کمک به طفل

پروین "عظیمی"

- یک هدف را وقتی پلان کرده میتوانیم که در اجرای آن با طفل شامل باشیم.
- در وقت پلان سازی برای هدف والدین باید دخیل باشند زیرا آنهامهمترین کمک کننده برای طفل وکارمند هستند.
- هدف باید جوابگوی ضروریات طفل باشد.
- قبل از طرح پلان باید ارزیابی درست داشته باشیم.
- هدف باید حقیقی بوده وبه مراحل کوچک تقسیم شود.
- در نظر گرفتن چهار هدف کوتاه مدت در یک وقت کاملاً کافی است.
- اهداف کوتاه مدت باید به اهداف طویل المدت ارتباط داشته باشد تا طفل به آن برسد.
- وقتی ما برای اهداف پلان میسازیم باید دقیق باشیم تا کدام مهارت را اولتر رشد بدهیم. همیشه نکاتی راکه در مفاهمه در نظر گرفته میشود باید بخاطر داشت.
- هر فعالیت را که برای تدریس انتخاب می کنیم از آن باید والدین را آگاه سازیم.
- طرح پلان یک پروسه است که در آن وقت وابسطه به پیشرفت طفل است.



په "نشم کولای" عقیده نلرم

له رغونې مجلې څخه په مننې

مرکه کوونکی: عبدالباری بالاکرزی

د ارغنداب ولسوالۍ دچهار باغ کلی د کندهار ښار شمال ختیځ پلوته د ارغنداب دلوی ویالې په شنه غاړه د شنو باغو او باغچو په منځ کې پروت دی. دغه ښایسته او سرسبزه کلی د روسی وحشی پوځونو په وړاندې د قهرمانو مجاهدینو ډیر مضبوط سنګر وو. د دی ځای متدینو او سرتیرو خلکو ډیرې قربانۍ ورکړې دي. د چهارباغ وطن پاله پرګنې نه یوازې دوطن په استقلال کې ترځاني او مالي تاوان تیر شوی بلکې دادب سره ئې هم بې کچه مینه ساتلې ده چې ژوندی مثال یې زموږ د پښتو رنګین ادب صادق خدمتګار ښاغلی عبدالاحد محمد یار دی چې د اروا ښاد غلام حسین خان زوی او په ۱۳۵۶ هـ ش کال کې د ارغنداب دچهار باغ کلي په پاکه لمن کې وزیږید. محمد یار خپله لومړنۍ زده کړه په محمود طرزی ښوونځي کې ترسره کړي او بیا یې د ابوریحان البیرونی لیسې څخه د۱۲ صنف د فراغت تصدیق ترلاسه کړ. پدې تکل چې دی خپلو لوړو زده کړو ته دوام ورکړي د کابل پوهنتون د کانکور په ازموینه کې یې ونډه واخیستله چې د ادبیاتو پوهنځی ته کامیاب شوو خو د یو شمیر کورنیو ملحوظاتو پربنسټ محمد یار ونه توانیدی چې پوهنځي دی تعقیب کړي. له هغې زمانې څخه چې زما او محمد یار تر منځ پیژندګلوی پیدا شوی، یو کال تیر شوی، موږ د ادب په ډګر کې سره وپیژندل. محمدیار پخپل طبیعت کې یو فنکار او دښکلي احساس خاوند او ډیر هوډیالی دی.

د پنجشنبې په ورځ د سهار پر ۱۰ بجې مې دمحمد یار سره د مرکې په پلمه ولیدل. دی زما په ورتګ زیات خوشحاله شو او ښه وطنوالي روغبړئې را سره وکړ د څه دمې وروسته مې له محمد یار څخه اجازه وغوښتله او مرکه مو پیل کړه:

رغونه: مهرباني وکړئ دا راته ووایاست چې دپولیو ناروغي څرنګه در پیښه شوه؟

محمدیار: زه د یوه کال وم چې د یو څو سختو تبو وروسته د پولیو په ناروغي اخته شوم. په هغو وختو کې دا رقم منظم د واکسیناسیون لوی کمپائینونه لکه اوس چې یې وینو نه تطبیق کیدل تر څو زما په شان په زرګونو ځوانان د دې ناروغي قربانیان شوي نه وایي.

رغونه: د معیوبیت په هکله مو په عام ډول نظر څه دی؟

محمدیار: زه هیڅ ډول احساس د معیوبیت نه کوم خو هر هغه څه چې روغ سړی یې باید وکړي هغه ټول زه کولای شم. بل دا چې دا یوه طبیعی پیښه وه او زموږ تکړه داکتر صاحب موسی وردك هم ماته وویل چې د دې علاج نشته نو چې ددې کوم علاج وای بیا د واکسین کمپائینونه څه دپاره پیل کیدل. نو په ډاډه زړه وایم چې زه پخپله په دې عقیده یم چې دنړۍ پرمخ پاندې هیڅ داسې یو انسان نشته چې هغه دې د کوم کمال، هنر او کار کولو وړتوب و نه لري. بلکې هر انسان یو استعداد او یوځواك دی.

په تیره بیا زموږ په وروسته پاته ټولنه کې دغه ډول ستونزه خپل اوج ته رسیدلې ده. خو دا باید داسې ونه انګیرل شي چې نور دې موږ معیوبین دمایوسۍ په ګرداب کې لاهو شو. زه خو وایم چې ژوند د مایوسۍ نوم نه دی بلکې دمایسوۍ او نهیلی پر وړاندې دمبارزې نوم دی، زه خپله پر معیوبیت باندې ایمان نه لرم زما لپاره معیوبیت هیڅ مانا نه لري، زه په ډیر لوی زړه او هسکه غاړه سره دا دعوه کولای شم چې په نړۍ کې هغه کوم کار دی چې زه یې نه شم کولای بلکې دهر کار کولو ته چمتو والی لرم. او دا هم وایم چې هر انسان که هر ډول معیوب هم وی زه د هغه څخه د ډیرو سترو کارونو هیله لرلای شم. په دې شرط چې کار ځنې واخستل شي او پرکار وګمارل شي. لنډ وایم چې پر"نشم کولای" عقیده نه لري.

او دا چې څه ته اړتیا لرو؟

تر هرڅه وړاندې "زده کړې" ته اړتیا لرو، زده کړه او د پوهې لاسته راوړنه دخپلې ټولنې پرهر وګړي، چې په هر ډول حالت وی فرض عین ګڼم.

رغونه: ښاغلی محمدیار صاحب! تاسې خطاطی څرنګه زده کړه او بیا ددغه ښایسته کتابتون د جوړولو فکر څنګه درپیدا شو او تر ټولو مهمه دنده خو مو لا د تعلیمی کورس جوړول دی چې په هغه کې د وطن بچیانو او تنکیو ځوانانو ته بې له کومه مزده ستاسو د خوا سبق ویل کیږي، ددې ترڅنګ فرهنګی چاری هم مخته وړي.

محمدیار: توریال زما ټولګیوال او ملګری وو، ده له خطاطی (لیکګرۍ) سره زیاته مینه درلوده، کله چې ښوونځی وتړل شول، توریال له کوم استاد څخه د لیکګرۍ (خطاطی) زده کړې پیل کړي او ما په خپل کور کې له خپل اروابناد او ستر پلار څخه ځانګړی درس وایه او خپلې کورنۍ به د بیلا بیلو کتابو مطالعې ته هڅولم. بیا توریال د لوحه لیکنې دکان پرانست، زه به یې دکان ته

ورتلم او دلیکګرۍ کار به مې ورسره کاوه. توریال زما دلیکګرۍ استاد شو.
په ۱۳۷۶ لمریز کال توریال د اقتصادی ستونزو توپان پر سر واخیست او هیواد پریښودلو ته یې اړ ایست، دکان یې ماته راپریښود. ما مخکې وویل چې ما په کور کې دخپل ستر پلار کتابونه لوستل، نو زما مینه ترهر څه له کتاب سره زیاته وه او هم پر همدغه مهال پخپلو ملګرو کې د شاعر په نامه پیژندل کیدم. ډیر ملګری مې دکتاب مینې ته رامات کړل، خو ستونزه دکتاب دپیدا کیدو وه. ما به ځینو ملګرو ته له کوره کتابونه راوړل ځکه چې عامه کتابتونونه نه وه. دکتاب د رانیولو وس هر چانه درلود او دا مینه آخر لیونی شوي وه. نو د ځینو ملګرو په ټینګار او پراخ ملاتړ او میړانه مو یو ډیر ابتدائی وړوکی کتابتون جوړ کړه چې اوس نژدې ۶۰۰ کتابونه لري. ورو ورو ملګرو مرسته کوله، هر چا تر خپله وسه د کتابونو، مجلو، اخبارو او .... بسپنه ورکوله چې ترهمدې شیبې مو را ورساوه، اوس په یارانو ډیر ویاړم او دکتاب سره مینې ته یې ډیر دقدر په سترګه ګورم چې کتابتون یې د ډیرو زیاتو او بې شمیره ستونزو سره سره تر دې بریده را ورساوه چې اوس نه یوازې زما ملګري ګټه ځنې اخلي بلکې نژدې دښار په هرګوټ کې دنوموړی کتابتون کتابونه لوستل کیږي آن چې تر زابل او ارزګان پورې یې کتابونه وړل کیږي.
دکتابتون لپاره مې مسئول ټاکلی دی او هغه نظم وربرابروي. زه د ورځې په اوږدو کې انګلیسی ژبه زده کوم، په دکان کې دلوحه لیکنې کار کوم، ۲۰ شاګردانو ته د ۶ بجو څخه بیا تر ۷ یا ۸ پورې دمکتب مضامین تدریس کوم. اول مې دوی ته د څلورم صنف څخه درس شروع کړ مګر اوس دوی شپږم صنف ته راورسیدل. همدارنګه زیات شمیر شاګردانو د خطاطی درس شروع کړي دی چې دوی د ورځې په مختلفو وختو کې راځي، زه د دوی دخطاطی په درسو کې کافی او دپاینبت وړ پرمختګ وینم.
دیارانو په مټ فرهنګی چارې هم مخته بیایم، هیله لرم چې هغه ستر ارمان مې نژدې پوره کیدونکی دی چې یو وخت مې دکوم شعر په ترڅ کې داسې بیان کړی و:
پریږدې چې اور پورې شي نوم د ناپوهۍ باندې.
مل مو شي قلم قلم ژوند مو شي کتاب کتاب
رغونه: تاسې تر اوسنی پړاو پورې څرنګه لاره ووهله.
محمد یار: اول خو موږ او تاسې مسلمانان یوو او په دې مشهوره مقوله عقیده لرو چې معنی یې ده هر هغه څه چې تاسې غواړې په کوښښ او زیار سره یې لاس ته راوړای شي. ما هم پخپل ژوندکې دغه خبرې ته ډیر قدر ورکړی دی او خپل مکتب ته به په سختو ګرمیو او بارانی ورځو کې په معیوبو پښو د شکاپور دروازې څخه چې زموږ کور وو راتلم چې حتی یو سالم سړی هم د دی توان نلري. اوبل دا هر څه چې یو روغ سړی یې باید وکړي هغه ټول ما وکړل.
رغونه: ستاسو دشاعری په هکله خو مو ډیر څه لوستی دی که مهربانی وکړي او درغونې علاقمندانو ته خپله یوه شعری بیلګه ولولي.
محمد یار: البته تاسې زما هغو شعرو ته اشاره کوي چې زه یې هر وخت د کندهار په ادبی غونډو او مطبوعاتي خپرونو کې بیانوم، نو زما د خوښې څلوریځه به درته ووایم:

څلوریځه

یو نری درد مې همیشه په سر د زړه وي ولاړ
لکه دخدای دوست چې په عجز پر لمانځه وي ولاړ
کشکی چې یو دوه وانې ما به یې چاره واې کړی
څنه ناخوانان خو پر هر کام خلور پنځه وي ولاړ

زما ډیره علاقه وه چې په کابل کې مې د ادبیاتو پوهنځي لوستی وای. ما پخپله له محترم وکیل احمد صاحب سره چې د ادبیاتو اهمیت ته ډیر په ځیر ګوري وکتل او دلوړو زده کړو پر وزارت مې په کندهار کې دادبیاتو د پوهنځي د پرانستلو امر ترې واخیست چې په دې لنډ وخت کې به زه د لوړو زده کړو د وزیر سره له نژدې څخه ووینم او انشاالله په کندهار کې به د ادب او معارف غوټې پر غوړیدو شي. د ادبیاتو دغه پوهنځي په کندهار کې ډیر د اهمیت وړ دی ځکه چې دلته د ادبیاتو کچه ډیره ضعیفه ده او علاقمندان یې هم شته.
رغونه: ستاسو پیغام د کوچنیانو پلارونو او میندو ته څه دي؟
معمد یار: څرنګه چې ټولو افغانانو ته معلومه ده چې د پولیو پر واکسین نړیوال ډیر مالي لګښتونه لګوي په دې چې د نړۍ ماشومان زما په څیر د پولیو په معیوبیت مبتلا نه شي نو موږ ته ښایي چې خپلو اولادونو ته چې عمر یې تر پنځو کلو کم وي واکسین کړو.
درغونې اداره محمد یار ته دده د دغه درانه او ادب پالونکي تکل لپاره مبارکې ورکوی او ده ته په دې ځلانده لار کې د لوی خدای ﷻ له درباره څخه توفیق غواړي.

بر آورده ساختن حاجت حاجتمندان

شمس الرحمن "فروتن"

خداوند متعال انسان را مدنی الطبع خلق کرده است، یعنی در هر وقت ومکان به اجتماع ضرورت داشته و در پیشبرد زندگی سعادتمند وآبرومندانه به وسایل اسباب اعانت وأنوست دیگران ضرورت دارد. پس به همین خاطرست که به اجتماع ودر رفع حوایج ووحشت به همنوعان ضرورت دارد وبه تنهایی نمی تواند که حوایج خود را رفع ووحشت را از خود دور نماید.

حوایج وضروریات انسان قسماقسم میباشد وخداوند عزوجل برای پوره ساختن بعضی آنها بعضی اشخاص را وسیله در هر جامعه پیدا و مقرر نموده است وبرین کار در دنیا وآخرت به مزد وثواب هم وعده داده است.

شکی نیست که در هر جامعه اشخاص حاجتمند وجود دارند که ضروریات وحوایج آنها نسبت به یکدیگر متفاوت میباشد که حاجت بعضی شدید واز بعضی أشد، بعضی حاجت به اعانت معنوی دارد وبعضی به مادی، پس هر قدرتمند وتوانگر در قبال پوره ساختن و رفع حوایج محتاجین مسئولیت مهم داشته که تغافل ازان کاریست نادرست وبعید از مروت ، اخوت وبشر دوستی. پس هر کسیکه برخاست وبه پوره کردن حاجت برادر مومن ومسلمان خود کمر همت بست ، در بدل این کارش خداوند عزوجل حوایج دنیا وآخرت آن شخص را پوره میسازد وکسیکه در دنیا از برادر مومن ومسلمان خود غم، مصیبت وسختی را دور نماید، خداوند عزوجل از وی غم مصیبت وسختی های آخرت را دور میسازد.

چنانچه حضرت ابن عمر رضی الله تعالی عنهما میفرماید که حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمودند:

ترجمه: کسیکه در پوره کردن حاجت وضرورت برادر مسلمان خود باشد، خداوند عزوجل در پوره کردن حاجت وضرورت آن کس میباشد وکسیکه دور بسازد از مسلمان مشقت وحزن را در دنیا، خداوند عزوجل دور میسازد از آن کس مشقت وحزن آخرت را، وکسیکه برعیوب وگناه مسلمان پرده اندازد، خداوندعزوجل برعیوب وگناه آن کس در آخرت پرده می اندازد.

یعنی هرکسی و به هر عنوانی که باشد که در پوره ساختن حاجت حاجتمندباشد، خداوند متعال نه تنها چنین کس را در دنیا سعادتمند داشته بلکه درآخرت هم ازوی تکلیف، مشقت، سختی وغم را دور میسازد، وحاجتش را که همانا دخول جنت میباشد برآروده میسازد.

قبلاً تذکر شد که در هر جامعه بعضی اشخاص اشد حاجتمند وبعضی شدید وبعضی کمتر ازان میباشد، پس پوره نمودن حاجت اشخاص که اشد حاجتمند هستند نسبت به دیگران اجر وثواب بیشتر دارد که یک طبقهٔ این گونه افراد معیوبین و معذورین میباشند، به خاطر که اکثر معیوبین به علت معیوبیت ایشان نمیتوانند که به تنهایی ضروریات خود را پوره بسازند، پس آنها به اعانت جانی، مالی ومادی و معنوی دیگران ضرورت دارند.

اعانت جانی: به این طور که اگر کدام معیوب کار داشته باشد مثل گلکاری وغیره که تنها یا کاملاً نمیتواند آن را به انجام رساند، پس بالای افراد سالم وقدرتمند و اجبست که با شخص معیوب کمک نموده و به طیب خاطر در انجام کارش بکوشند.

اعانت مالی: به این طور که اگر کدام معیوب فقیر ومسکین باشد وکسب وکار به خاطرتحصیل پول و روپیه کرده نتواند بر دیگر اشخاص غنی و توانمند جامعه ومحیط لازم است که با آنها مساعدت نمایند مثل کمک نقدی بدون قرض، دادن عشر وزکات غلات واموال وقرض دادن به طور حسنه وغیره.

اعانت معنوی: به این طور که اگر کدام معیوب از معیوبیت و معذوریت خود انجور بوده وغمگین میباشد، وی را باید تسلی داده همدرد وغم شریکش باشیم و از القاب وخذابات زشت چون کور، کر، شل وغیره در حق وی اجتناب ورزیده شود وقدر و حیثیت او را از قدر و حیثیت اشخاص سالم کمتر نباید دیده که مسرت داریم که موسسه همه جانبه معیوبین درین حصه توجه خاص نموده و این طبقه را در پوره ساختن وبر آورده ساختن احتیاجات وضروریات ایشان هر گونه امداد ومساعدت کرده است.

همچنان حضرت ابوهریره رضی الله تعالی عنه میفرماید که رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشاد فرموده اند:

ترجمه: کسیکه دور سازد از مسلمان سختی ومشقت دنیوی را خداوند ﷻ دور میسازد از آن کس سختی ومشقت آخرت را وکسیکه آسانی نماید بالای کسیکه به تنگدستی وسختی گرفتار باشد" مثل کسی که فقیر باشد وباآن کسی کمک مالی نماید" خداوند ﷻ در دنیا وآخرت بالای آن کسی آسانی وآسوده گی را میاورد واز مصیبت و سختی دنیا وآخرت در امانش میدارد وکسیکه بر عیوب وگناه مسلمان در دنیا پرده اندازد، خداوند متعال بر عیوب وگناه آن کس در دنیا وآخرت پرده می اندازد و خداوند ﷻ در کمک بنده خود است تا وقتیکه آن بنده در کمک برادر مسلمان خود باشد . پس اگر ما در پوره ساختن حوایج حاجتمندان که یک طبقه آنها معیوبین هستند وقت خود را مبذول بداریم در بدل آن خداوند عزوجل در پوره کردن حوایج مایان میباشد، پس برماست که درین راستا به جان، مال، زبان وقلم از خدمت و مساعدت به افراد حاجتمند وبه طور خاص با معیوبین ومعذورین دریغ نه ورزیم زیرا:

توکز محنت دیـــگران بـــی غمی
نشایـــد کـــه نامـــت نهند آدمی

الگوی که از آن باید آموخت

پروین "عظیمی"

در یکی از خانواده های متدین ولسوالی لوگر، فامیل زحمتکش با پنج پسر ویک دختر زندگی می کند. یکی از پسران آنها بسیار با استعداد بوده که باعث افتخار پدر ومادر بوده و از اخلاق خاصی برخوردار است. او محمد اسحاق نام دارد که ۱۰ ساله میباشد. وی در صنف چهارم درس می خواند و مقام دوم را در صنف دارد. برعلاوه دروس، او قرآن کریم تلاوت می کند و اوقات بیکاری را در توپ بازی که یگانه بازی مورد ذوق اوست با همصنفان و رفقای خود می گذراد.

اسحاق از طفولیت محرُوم از دوبازو بدنیا آمده است. زمانیکه ۸ سال داشت مشکلات زیادی را در اجرای کار های روزمره و رفع ضروریات خود متحمل می شد اما با مرور زمان وی در اثر توجه خاص والدین وکارمندبازتوانی می تواند تمام ضروریات خود را از قبیل نان خوردن، لباس پوشیدن، مو شانه کردن، دندان برس کردن وغیره به تنهایی انجام دهد. البته این همه نتیجه تلاش های پیگیر و متداوم فامیلش، خودش، همصنفانش وضمناً محترم محب الله کارمند بازتوانی (CRDW) که از چهار سال بدین طرف برای بازتوانی او با اوکار می کند میباشد. برای اجرای کار های روزمره، او از پا های خود به مهارت خاص کار می گیرد.

قسمیکه در مکتب توسط پای چپ خود نوت گرفته و کار های خانگی خود را انجام می دهد واز پای راست خود برای خوردن، نوشیدن، دندان برس کردن وغیره استفاده می کند لذا او در خانه ودر مکتب به کدام مشکل خاص مواجع نمی شود. وی دوست دارد درس بخواند و عقیده دارد که انسان بدون دست هم می تواند شخص مفید در جامعه بوده وبه مردم خود مصدر خدمت شود. وی نهایت با جرئت است وبا اطرافیان خود روابط اجتماعی خوبی دارد . همه او را دوست دارند و استعداد و ذکاوت وی را می ستایند.

نامه های ارسالی شما

برادر محترم شمس الرحمن "فروتن" از کراچی!

نامه ومضامین زیبای شما برای ما رسید. از شما تشکر نموده وهمکاری های تان را با نگاه قدر نگریسته، ستایش می کنیم. درین شماره پارچه شعر و مطلب ارسالی تان عنوانی "برآورده ساختن حاجت حاجتمندان" را به نشر سپردیم. به امید همکاری های دایمی تان. موفق باشید.

محترم داکتر صاحب نجیب الله "محبوب" از پشاور!

مطلب ارسالی تان عنوانی " نقصان درشنوایی" را حاصل نمودیم. نهایت جالب ومفید است از اینکه مطالب زیاد برای نشر درین شماره بدست آوردیم نتوانستیم مطلب شما را نشر کنیم لذا معذرت خواسته و در شماره آینده حتماً از آن استفاده می کنیم. امیدواریم در آینده هم با ارسال مطالب ارزشمند ومفید تان مجله تان را زینت بخشید.

گران ورور محمدر نادر د UNOPS/CDAP ساحوی کارمند!

ستاسې رالیږلی مطالب موږ ته راورسید چې ټوله محتوایی په زړه پورې او دقدر وړ ده . ستاسې له همکاري څخه مننه کوو او هیله لرو چې د توان په راتلونکو ګڼو کې ستاسې مطالب نشر ته وسپارو. ستاسې د ښې همکاري په هیله. موفق اوسئ.

خواهر گرامی صدف جان!

با سپاسگزاري فراوان از همراهی تان، اشعار شما را دریافت نمودیم. ذوق تان را می ستاییم وبخشی از پارچه های ارسالی تان در موقعش نشر خواهد شد. به امید همکاری های دایمی تان.

برادر عزیز عثمان جان از شهر پشاور!

نامه شما را بدست آوردیم. از اظهار علاقمندی تان به مجله "توان" تشکر می نمائیم. امید در آینده با ارسال مطالب مربوط به معیوبین ما را همکاری نمائید.



سلام





ښه یم



څنګه یې

- سلام .
- څنګه یې ؟
- مننه.
- ښه یم .



مننه

حل کننده گان جدول

- صدف جان از لیسه آریانا شهر پشا
- ذبیح الله از شهر کابل
- وحیده محبوب از فارورد مادل سکول
- یلدا نعیمی از شهر پشاور
- احمد جواد صنف هشتم مکتب دایت هاوس، پشاور
- محمد نبی از ولایت غزنی
- نصیر احمد واحمد ضیاء ازولایت وردک

به حکم قرعه یلدا "نعیمی" موفق به حل صحیح جدول شماره (۱۳) مجلهٔ توان گردیده ومستحق جایزه شناخته شده است.
ازخواهر ما یلداجان خواهش میشود تا غرض دریافت جایزه خویش آدرس پوستی خود را به دفتر مجلهٔ "توان" ارسال بدارد.

حل جدول شماره سیزده هم مجله "توان"

ی	ح	ص	ت	ا	م	د	ح		ن	ا	هـ	ج	ی	ح	ص	ن	ا	م	ز	ا	س
		د	ا	د		ر	ط	خ			ا	ی	ز	ی	ل	ا	م		ش	ح	و
ی	ن	ا	ج	م	د	ا		و	ی	ل	و	پ			ح	م		س		ت	ز
ه	ذ	و	ک					ذ		ی	ن		ن	ی	خ	س	ا	ذ		ی	ا
ن	و	ت	س		ه	م	ل	ک		پ			و		و	ل		م		ا	ن
			ت					ف		و					ا	م		م		ج	
	ی	ا	ی	ن	ی	پ		ا		و	م		ی	ل	هـ	ا		ی			
		ک	هـ	ن	س	ا	ل		ی		س	ا		م	د	ا	ن	ا	و	ن	س
									ی		ی			ن	ا	ن		س	ا		ا
ا	ن	ا	خ	ب	ا	ت	ک					ک	ن	ی	ع		و	گ	ت	س	هـ	ذ

دوستداران وخوانند گان گرامی مجله!

ذیلاً چند سوالی بشکل کانکور این شماره داده شده است. شما میتوانید با انتخاب جواب درست آن آنها را حل نموده و به دفتر های UNOPS/CDAP مربوطه خویش ارسال کنید و جوایز این شماره را بدست آرید.

در باره ناشنوائی چه میدانید؟

۱. بعضی از اطفال ناشنوا میتوانند صحبت کنند.

الف) درست　　ب) غلط

۲. اطفال نابینا ممکن در صحبت کردن مشکلات داشته باشند.

الف) درست　　ب) غلط

۳. والدین اطفال ناشنوا همیشه ناشنوا میباشند.

الف) درست　　ب) غلط

۴. ناشنوایان نمی توانند یکجا دریک صنف با افراد شنوا درس بخوانند.

الف) درست　　ب) غلط

۵. انتانات در داخل گوش می تواند سبب ناشنوائی گردد.

الف) درست　　ب) غلط

۶. ناشنوائی در اطفال نوزاد که مادر شان در حاملگی مبتلا به سرخکان بوده زیادتر واقع شده میتواند.

الف) درست　　ب) غلط

PROPERTY OF ACKU

قلب روشن

مفتی شمس الرحمن "فروتن"

به قلب روشنم بینم همانا سیر یزدانی
نمی بیندکسی آن را به این چشمان جسمانی
بصیراینده نمی بیند مگر شکری نمایم که
بصیرت دار می بینا بود این فضل سبحانی
زدید در جمال روی دلبر ایند مم محروم
کنم صبری که تا فردا ببینم دلبر جانی
وداع گفته بمن دیدار چشمم ازمنی رفته
ولیکن شاکرم از آن که دارم قلب روحانی
هر آنکه اوبشد محروم زدیدار دو چشمانش
خداوندش نموده وعدهٔ جنات سلطانی
بود انسان به معنی نه مال و ظاهر وصورت
خدا(ج) بیند به قلبت ای برادرگر سخن دانی
ببین تو بعضی بینایان پریشان گشته از دیدن
چو چیز رامن نمی بینم که سالم از پریشانی
"فروتن"کن مواسات با غریب درویش و معذور
دل مجروح را فرما زشعر خویش درمانی

خپروونکی

دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام (CDAP)
د لیکنې د پوړو تر نظر لاندې

پته: دملګرو ملتونو له خوا دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام
خانه ۶، سرک - ۶۲، F-8/4
پست بکس ۲۳۰، اسلام آباد
په افغانستان کې زموږ پتې:

بلخ
پروژه همه جانبهٔ معیوبین افغان/ کمیته سویدن دروازه بلخ، نزدیک کوچه تمن شهر مزار شریف. تیلفون ۲۷۷۶

تخار:
پروژه همه جانبهٔ معیوبین افغان/ کمیته سویدن سرک اول، مقابل شفاخانه صحت عامه شهر جدید تالقان

وردک:
دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام/ د اورتوپیدی ورکشاپ - دغزنی بار.

قندهار:
دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام، د UNOCHA دفتر دکندهار بار.

هرات:
پروژه همه جانبهٔ معیوبین افغان، جاده محسن، عقب کونسلګری ایران نزدیک دفتر WFP ـ هرات ـ افغانستان.

کابل
دافغان معیوبینو هراړخیز پروګرام (CDAP)
شاه محمود غازی واټ، کابل، پست بکس ۵